# د خان شهيد
# عبدالصمد خان اڅکزي د ليکدود تنقيدي څېړنه

**Critical Analysis of Khan Abdul Samad Khan Shaheed Script**

ډاکټر نصرالله جان وزير*
ډاکټر فيض الله خان♣

## Abstract:

Languages with too many speakers consist of many dialects due to which standard typeface has been missing or not followed properly, particularly when a language is in its evolution period until it is enriched well. Pashto is also one of those languages which has still not clinched such position. Anyhow, in the development of pashto typeface many writers i.e. from Bayazid Roshan to Khan Shaheed Abdul Samad Khan has contributed.
The author of this paper is going to unpack the intellectual and linguistic approach critically and efforts of the popular politician of southern PashtoonKhwa, Khan Shaheed Abdul Samad Khan who strived to make it as easy as it is possible and designed some special signs as well.

د پښتو ليك دود منظم تحريك چې د پيرروښان له زماني را شروع شوی او پس له دې د هغهٔ مخالفينو يعني اخونيانو دا لړۍ نوره پسې غښتلې ده. چې په دريم پړاؤ کښې ستر خوشحال بابا يو څهٔ نور نوي تجربات کړي. خو د پښتو ژبې ليك دود ښه هغه وخت يوبشپړ او سم شکل اخيستی څهٔ وخت چې د پښتو ادب ډېرو سترو ادبي او علمي شخصياتو د پښتو ګرائمر، صرف و نحو، لُغات او د اِملا و اِنشاه څېړنو ته پام ور اوګرځوهٔ، لکه د مثال په ډول: عبدالرؤف بېنوا، صَديق الله رښتين، ګل باچا الفت، علامه رشاد، عبدالحی حبيبي، مولنٰا عبدالقادر، فارغ بخاري، پرېشان خټك، منتظر بېټنی او ځينې نورو.

---

* Director, Pashto Academy, University of Peshawar
♣ Assistant Professor, Department of Pashto, UoB, Quetta

خو بايد هيره نهٔ کړو چې د پښتو اِملا او ليك دود په سمونه کښې پرته له دې شخصياتو ځينو داسې سترو شخصياتو هم ورته کړې، چې په دې اړه د هغوئ فکر او نظر يو ستر ارزښت لري. او په دې حقله د هغوئ له خوا وړاندې کړل شوې مفروضې که په دقيق نظر اوکتلې شي نو د دې خبرې قوي امکان شته، چې د پښتو الفبا يا د حروفو صوتي ادائيگۍ کښې به ضرور يو څهٔ اسانتياوې را پيدا کړي. له دغسې ډول سترو شخصياتو نه يو خان شهيد عبدالصمد خان هم دی چې د قومي او سياسي مبارزې پرته ئې د پښتو ژبې او ادب خدمت کول هم خپله وظيفه گڼلې ده.

خان شهيد که څهٔ هم يو سياسي مدبر وو او د سياست له نظره ئې د ملت د وحدت مبارزه کوله خو خپل ملت په يو مرکز راغونډولو په ځير هغهٔ دا شعوراً غوښتل چې د پښتو ليك دود هم په يو واحد، منلي، معياري او مرکزي ليک دود کښې سره را ټول کړي. په دې غرض هغهٔ په باقاعده ډول د ليك دود يوه رساله هم او کښله چې په هغه کښې ئې د پښتو اِملا او د ليک دود په اړه ډېرو اِختلافي مسلو ته خپل نظر وړاندې کړې. لکه د مثال په ډول هغه يو ځای ليکي چې:

"زما په گومان په دې وخت کښې د ژبې وده خالي د هغې په خوږوالي او ودانۍ نهٔ شي کېدلی او نهٔ په دې کېږي چې د هغې ژبې وئيلو واله خلك او اولس څومره مينه ورسره لري، دلته مونږ خالي دا کولی شو چې خپله ژبه داسې سپېڅلې او اسانه جوړه کړو چې هر کله چې هغه وخت راشي نو ژبه د هرې خوا د دې وړ وي چې هغه د يو خپلواك اولس، سرکار، اخبار، بازار، ښونځي، پوهنځي او پوهنتون ژبه شي".(۶۹)

په پښتو کښې څهٔ حروف داسې دي چې د هرې علاقې د لهجې د ادائيگۍ په مناسبت ډېر شکلات پيدا کوي. خان شهيد په خپل ليک دود کښې د دې کړکېچ هم يو د حل لار راايستلو هڅه کړې ده. چې د هغې په اختيارولو سره په ځينو صورتونو کښې، تر ډېره حده دحروفو په کښلو کښې يو والی راتلی شي. چونکې هغه په ليك دود کښې د يو والي قائل وو او غوښتل ئې چې د عربي، فارسي او يا د نورو ژبو د ليك طرز څخه دې د پښتو صوتي او هم د اِملا دود اوساتلی شي. خان شهيد خپل دليل قوي کولو د پاره

مثالونـه د انګرېـزۍ او ځینـو نـورو ژبـو څخـه ورکـړي. چـې هلتـه پـه داسـې کولـو سره هـېڅ کـوم ګناه نـۀ دی شوی نـو کـه پـه پښـتو کښـې هـم داسـې اوکـړل شـي نـو هـم کوم ژبني قانون ته زیان نۀ رسېږي.

په دې حقله خان شهید دا نظر لرلی چې:

"هـم دا شـان کـه مـوږ عـرب او عـراق، پـه ارب او ایـراق ولیکـو یـا لکـه پـه انګرېـزۍ چـې اسـتاد او صـمد دواړه پـه یـوه ایـس، یـا "س" لیکـل کېـږي، کـه مـوږ هـم عبدالسـتار او عبدالصـمد دواړه اودل سـتار او اودل سـمد ولیکـو څـۀ رنـګ چې یې لولـو نـو زمـونږ د ټکـو څخـه بـه ټـول هغـه تـازې ټکـي کـم شـي چـې مـوږ یـې نـه شو لوستلی لکه "ث" "ع" "غ" "ف" "ق" او "ء"،".(۷۰)

مګـر پـه دې کښـې یـو مشـکل دی هغـه دا چـې د عربـۍ حـروف د پښـتو د اصـواتو پـه څېـر ادا کـول او بیـا هغـه د پښـتو د اصـواتو پـه رنـګ لیکـل، پـه معنـاوۀ کښـې ډېـرې مسـلې راپورتـه کـوي. ځکـه کلـه چـې یـو څـوك د هغـه تـوري اصـل پسـې ګرځـي نـو بـه ئـې کومـه خـوا او چرتـه غـواړي . چـونکي یـو تـوری چـې د کـومې ژبـې څخـه راغلـی وي نـو لازم د هغـۀ اصـل هلتـه پـه هغـه کښـې تـر لاسـه کېـدلی شـي، نـۀ چـې پـه پـورورې ژبـه کښـې. بـل پـه داسـې کولـو سـره ډېـر الفـاظ پـه ادائیګـي کښـې لـه یـو بـل سـره نښـلي او هـم ئـې کـره معنـا راایسـتل ګرانـه شـي. ځکـه پـه داسـې کولـو سـره د ژبـې دسـوچه والـي هڅـه خوکېدلی شـي، ولـې لـه دې سـره بـه ژبـه ببخـي لنډه بوڅـه کـړل شـي او هـم لـه دې سره د ژبې د پراختیا او پر مختیا ټولې لارې بندېږي.

هغـه حـروف چـې انسـان د هغـې پـه اسـاس د خپلـو احساسـاتو او جـذباتو اظهـار کـوي، پـه شـمار کښـې ببخـي کـم او نیمګـړي دي. ځکـه د انسـان هغـه ګـڼ د احساسـات او جـذبات چـې پـه تحریـري بڼـه کښـې وي او کـه د بیـان پـه صـورت کښـې، مکمـل او بشـپړ نـۀ وي. ځکـه چـې د انسـان وضـع کـړي تـوري محـض یـو څـو دي، کـوم چـې داظهـار د ترسـیل هـره لمحـه پـه ګرفـت کښـې نـۀ شـي راوسـتلی. خـو بیـا هـم د حروفـو کـوم مخصـوص نظـام چـې وضـع کـړل شـوی، هغـه پـه دې ضـرور توانېـدلی چـې د انسـان د پـرون، نـن او د سـبا د پېژنـدنې د پـاره دې د یـوې غوره زریعه په توګه کار ورکړي.

په پښتو ليك دود کښې يو څو حروف داسې دي چې تر اوسه لاسمه بڼه نۀ ده ورته ټاکل شوې، لکه د واو (و) معروف او واو (و) مجهول.

خان شهيد عبدالصمد خان دواو (و) دغه متغيره صورتونو په حقله خپل يو نظر وړاندې کړی.

"په پښتو ژبه کښې دوه غږونه د سر ه نۀ شته، يو هغه چې په اردو او پارسي ژبو کښې ځرګنده "يې" يا "يې (معروفه) بولي، لکه په پير، امير او وزير کښې چې "ی" ده او بل هغه غږ چې ځرګند واو (واو معروف) يې بولي لکه بود، نمود او سود کښې "و" په پښتو کښې دا دواړه غږونه د زېر (کسره) او پېښ (ضمه) په ډول ادا کېږي لکه پير، وزير، امير، خو تاوان دا دی چې موږ هر ځای دغه "ي" او "واو" د زېر (کسره) او پېښ (ضمه) په ځای نۀ ليکو، ځکه مو توري هم اوږدۀ شي او د شك ويلي نۀ شي لوستل کېدای... که موږ چېرې د زېر (کسره) او پېښ (ضمه) دپاره "ی" او "واو" وليکو نو د زېر او پېښ ټکي به په اسانه د شکله ووځي.... خو دا "واو" چې د پېښ په ځای يې ليکو او خالي غږ کار ورکوي دا به د رُوغ "واو" څخه چې هغه خپله غږ لري لکه د "وران" پېښور او ځينې نور د لومړي واو څخه بېلتون غواړي.... لکه "و" له لاندې لکۍ سره".(۷۱)

خان شهيد چې د "ی" ګانو کومه مسئله څېړلې ده، په هغه کښې ماسوائې د پراتې "ے" باقي نور صورتونه تر ډېره حل کړل شوي دي. البته د واو اختلافي صورت تر اوسه لا په سمه توګه نۀ دی حل کړل شوی. په دا حقله خان شهيد چې کوم صورتونه ښودلي، هغه په تحرير کښې که څۀ هم لږ ډېر مشکل پيدا کوي، خو هغو ته يو صورت ټاکل بيا هم ضروري دي. هغه که د خان شهيد په ليک دود کښې وي او که ورته بل کوم صورت دې ولې نۀ وي.

پرته له دې خان شهيد د پښتو الفبا د يو څو نورو مبهم حروفو د سمولو په باب هم يو څۀ تجويزونه وړاندې کړي دي.

"د زوَر، زېر او پېښ پس دوه غږونه نور پاتېږي... چې هغه دي اوږده "يې" يا (ياې مجهوله) لکه: په تۀ ځې دوې وتې، کاسې... او بل دی اوږد واو (واو مجهول) لکه: تول (وزن) ټول (ګرد) چول، کهُول... زما په پام دا دواړه

کـــه داســـې ولیکـــو "یـــې" یـــائې مجهـــول او "واو" چـــې لاتـــدې کـــړی ولـــري ( واومجهول".(۷۲)

د خـان شـهید د مجهولـه "ئـې" دغـه صـورت د پښتـو لیـك دود د بـاره ګللی پـه سـیمینار کښـې هـم منـل شـوی دی. خـو د واو مجهـول مسـئله د معـروف "واو" سره یـا د خـان شـهید د "واو" چې لاندې کړی اولـري، پـه ځېـر او یـا د بـاره ګللی د فیصـلې مطـابق پـه پـېښ (ضـمه) منـل، دواړه صـورتونو څخـه کـه هرکـوم یـو اختیار کړل شي نو په دې کښې به کوم مشکل نۀ وي.

دغســې خــان شــهید د پښــتو لیــك دود پــه اړه یــوه بلــه مهمــه مســئله هــم چېړلې ده. لکه داچې:

"هـم دا شـان پـه پښـتو کښـې ځینـې غبـرګ (مشـدد) لکـه پرتـه، برغـه دي دا ټکـي بېلتـون غـواړي چـې هغـه پـه دوه ډولـه کېـدلی شـي، یـو دا چـې دا تـازي پـه شـان بېلـه نخښـله پـر ې د شـد ورتـه کښـېږدو او بـل دا چـې یـا خـو د انګرېـزی پـه شان برغ (Double) ټکي دوه واره ولیکو . . . .".(۷۳)

د خـان شـهید دغـه نظـر بېخـي سـم او پـر ځـای دی ځکـه چـې تـر اوسـه پـه پښـتو کښـې د غبرګـو غږونـو دپـاره نـۀ خـو چـا بیـل علامـت وضـع کـړی او نـۀ وربانـدې د شـد لګولـو اجـازت ورکـړل شـوی. نـو غـوره بـه دا وي چـې یـا خـو دې د غبـرګ تـوري لیکولکـه پـه انګرېـزي کښـې چـې رواج لـري او کـه هغسـې نـۀ وي نـو دې د تشـدید لګولـو بندوبسـت اوکړلـی شـي. پـه داسـې کولـو سـره بـه د تـوري پـه ادائیګي او معنا کښې اِبهام له منځه لاړ شي.

پـه دې لـړ کښـې دوه نـور مخصـوص حـروف چـې خـان شـهید پـه خپـل لیـك دود کښـې ذکـر کـړي هغـه د " ټ " او " ڼ " حـروف دي. هغـه پـه دې حقلـه دا رائـې لـري چـې د "ټ" او "ڼ" پـه مـنځ کښـې د نقطـو لګولوتـه حاجـت نـۀ شـته. ځکـه چـې د دې حروفـو خپـل شـناخت واضـح دی. دلتـه د خـان شـهید دا رائـې پـه خپـل ځـای معتبـره ده خـو کـه چرتـه پـه یـو تـوري کښـې دا دواړه حـروف یـو ځـای راشـي نـو بیـا بـه ئـې څـۀ حـل وي لکـه: د مثـال پـه ډول پـه کـوټنې خېـل، پـټنې ، ګټنـې او دغـه رنګـه ځینې نورتوري به بیا څۀ رنګه لیکو. ایا دا به کوم بل اِبهام نۀ جوړوي ؟

پـه مجمـوعي توګـه د خـان شـهید د لیـك دود پـه اړه کـه پـه لنـډو الفـاظو کښـې دا اووائیـو چـې د هغـۀ د وضـع کـړل شـوي لیـك دود څخـه ځینـې مفروضـې

پــه خپــل ځــای د اهمیــت وړ دي. لکــه د واو معــروف ، واو مجهــول او د واو معدولــه ، د پراتــې ( ے ) مسـئله او د شـد یـا غبرګـو توریـو لیکـل. ځکـه پـه دې بانـدې پـه خـلاص ذهـن سـره سـوچ کـول پـه کـار دي. خـو هغـه مسـائل چـې د نـورو ژبـو اصـوات پـه پښـتو کښـې د پښـتو صـوتي دود پـه مطـابق لیکلـو سـره اړه لـري چیړل نۀ دي پکار.

**د خـان شـهید د لیـک دود پیروکـار** : د خـان شـهید د پښـتو لیـك دود پـه پیـروي کښـې د پښـتو ادیـب ډاکټـر خدائیـداد پـه خپـل یـو ورکـوټي شـان کتـاب " سـوچه پښـتو" کښـې هـم دغـه شـان بحثونـه وړانـدې کـړې دي. خـو د ډاکټـر خدائیـداد د دې کتـاب مـواد او بحثونـه یـو څـۀ قـدر کمـزوري او لـه دلائلـو سـره کومـه خـاص علاقـه نۀ لـري. ځکـه لـه څېړنـو ښخـه تـرې ډډه کولـه شـي. پـه دغـه څېـر د خـان شـهید دسیاسـي فکـر یـو بـل معتقـد اصـغر لالا، چـې د خـان شـهیدیاد د کابـل سـیمینار د مقـالو مجموعـه کښـې ئـې پـه دې موضـوع خپلـه مقالـه کښـې یـو څـۀ مـواد سـره راغونـډ کـړي دي. هـم دخـان شـهید د لیـك دود پـه حقلـه محـض د هغـۀ د جـذباتي او سیاسـي وابسـتګۍ پرتـه بلـه کـو مـه معنـا نـۀ ورکـوي. هـېڅ کـوم داسـې نـوی فکـر ئـې نـۀ دی وړانـدې کـړی چـې بنیـاد تـه د اسـتحکام باعـث اوګرځـي او یـا دې ائنـداؤ تـه تسـکین ورسـوي. لـه مثالونوښخـه پکښـې اجتنـاب شوی. او دلیل ته هېڅ موقع نۀ ورکوي.

خـو د خـان شـهید د لیـك دود بحـث کـه د ګـوپي چنـد نارنـګ پـه دې الفـاظو سره راغونډکړو چې:

" تو اردو میں ایسا از روی قانون نہیں بلکہ از روی اصل سے یہاں مراد ان الفاظ کی اصل زبان ہے، اردو میں یہ مستعار الفاظ ہیں ان کی اصل زبان میں "ث" اور "ص" یا "ز" اور "ظ" میں فرق ہے، اس لئے آوازیں وہاں معنی کی تفریق میں مدد دیتی ہیں اگر اردو میں معنی کا فرق قائم رہا تو وہ اس لئے کہ یہ فرق اصل زبان سے چلا آتا ہے، اس لئے نہیں کہ اردو میں بھی "ث" "ص" یا "ز" "ظ" الگ الگ آوازیں ہیں، یہ بات صوت کی بنیادی اہمیت کو تسلیم کرنے کے بعد ہی کہی جاسکتی ہے کہ حرف کی سطح پر کچھ قبول کرنا ایک چیز ہے، اور صوتی سطح پر کچھ قبول کرنا دوسری".(۷۴).

# حوالې

(1) اچکزی، عبدالصمد خان، پښتو ژبه او لیکدود، یونائیټېډ پرنټرز کوټه، 1991ء، ص، ۲-۳
(2) دغه بره، ص، ۲
(3) دغه بره، ص، ۱۴ - ۱۵
(4) دغه بره، ص، ۱۷
(5) دغه بره، ص، ۲۱
(6) ڈاکٹر گوپی چند نارنگ، اردو زبان کے مطالعہ میں لسانیات کی اہمیت، مشمولہ: نقوش، لاہور، ۱۹۶۸ء، ادارہ فروغ اردو، ص، ۲۶ – ۲۵